دوديال ۲۰۲۳/۰۹/۰۱

# ظاهر هويدا: ژوند او هنر



د ظاهر هويدا نوم او هنر به زموږ د اماتور موسيقى له پاڼو هېر نشي. د ده نوم لا په څلوېښتمه لمريزه لسيزه کې وځلېد. دا هغه وخت و چې جليل ځلاند په موسيقي کې د اماتورانو يو بريالى غورځنګ را پيل کړی و. په دوی کې يو مخکښ ظاهر هويدا و. ظاهر هويدا د سندرو له ويلو پرته؛ د راډيو افغانستان تفريحي پروګرامو کې هم دخلکو، په تېره د ځوانانو زړونو ته لار موندله. د راډيو افغانستان د هغو کلونو د جمعی د ورځو پروګرامونو جلا کيف او خوند درلود، داځکه: يو خو رخصتی وه، بل داچې په دې ورځ به راډيو له سهاره د شپې تر ۱۲بجو وه. يو پروګرام پکې (پروګرام تفريحی شما) يو ساعته د طنز، ټوکو او تمثيل روزونيز- ټولنيز-اصلاحی او خندوونکی پروګرام و. د دې پروګرام ويونکی ظاهر هويدا و، ډيره برخه يی د "مستر فلاور" وه. ډيرو نورو پروګرامو کې هويدا د هغه وخت نامتو هنرمندانو سره مرکې کړې وې. کله چې د افغانستان تلويزيون په خپرونو پيل وکړ؛ په تېره بيا شپيتمو کلونو کې تلويزونی تفريحی برنامو لکه (کوکو دا دا) او نورو کې يې برخه لرله. له ميلادي شپيتمو کلو څخه د مهاجرت(۱۹۹۰) تروخت پورې له سندرو ويلو پرته، بيلابيلو فرهنګي چارو(تياتر، فلم، دوبلې او نطاقی) کی فعال و. راډيو کې يې نږدې ۳۰۰ ، خو تلويزيون کې يې تقريباً اته سندرى ثبت دي.

دغه پردېس هنرمند په ۱۳۲۴ل.(=۱۹۴۵م.) کال کې دهغه وخت د دايزنګی کلی کې نړۍ ته سترګې پرانيستې. وروسته بيا د کابل ښارد چنداولواو کتاب فروشی سيمی ته راغلل. پلار يې د سوداګرۍ د خونې مامور شو، بيا بلخ ته ولاړل. خپل ورور کبير هويداسره يې پنځه کلنۍ کې په موسيقی غږولو پيل وکړ، کله يې چې پلار ومړ، کابل ته راغلل، اقتصادی وضعيت يې ښه نه و. مور يې د اردو خياطی دستګاه(اعملاتخانه) کې د ګنډلو کار پيل کړ. نهه کلنۍ کې د استقلال ښوونځي کې شامل شو. ترنهم ټولګي يې د لوست ترڅنګ، د اقتصادی ستونزو له امله کسبه کاری او سينما کې د ټکټ خرڅولو کارهم کاو. لا دولسم څخه فارغ نه و چې د موسيقی د زده کړو لپاره شوروی اتحاد ته واستول شو. دچايکوفسکی دهنرونو پوهنځي کې له زده کړو وروسته په ۱۹۷۱=۱۳۵۰ل. کې د کورنۍ داقتصادی ستونزو له امله بيرته هيواد ته راغی، حال دا چې د ده ځينو نورو ټولګيوالو د نورولوړوکورسونو لوست ته دوام


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ورکړ. له ۱۳۵۰ ل. وروسته یې راډیو افغانستان کې رسمي ماموریت پیل کړ. د اماتورانو د ډلې نوښتګر غړی و، پیانو یې ډیره ښه زده وه او هم یې اکاردیون او آرګن غږ.او(دپاپ موسیقي وسایل همدوی رواج کړل). کنسرتونو کې یې هم برخه اخیسته، د راقم السطور په یادښت یوه جشن کې یې د سپین زر شرکت کمپ کې کنسرت و. هغه وخت د افغانستان او ایران ترمنځ فرهنګی اړیکې تودې وې، نو هویدا په یو هنری سفر تهران ته ولاړ او هلته یې ایرانی هنرمندانو سره د(کمرباریک) سندره ثبت کړه. د دغو سندرو کسټونه چې پر پوښ یی ظاهر هویدا، شهلا، مهرداد اوکوروش (ایرانی هنرمندانو سره) عکس کې ښکاریدل زښت ډیر وپلورل شول.



ایران کې تقریباً دوه کاله پاتې شوی و. د افغانستان راډیو کې دفرمایشی سندرو کې زیات فرمایشونه دهمدې سندرې وو. ده د سندرو لپاره ښه شعرونه غوره کول. د افغانی او ایرانی شاعرانو څخه نیولی تر تاجیکی. شعر به یی چې خوښ شو دشاعر نوم پسې نه ګرځېد. یووخت یې د شاشجاع ( صبح شد صحر دمید) شهر خوښ شو، هغه یی هم ثبت کړ، بیا یی د ایرانی شاعر شفیع کدکنی "موج موج خزر از سوګ سیه پوشانند "، باقی قایل زاده او د واصف باختری(ای کاش ای...)شعر سندره کړ . له نامتوشاعرانو، هنرمندانو او فرهنګیانولکه رازق فانی، بشیررویګر،ببرک وسا،فکرت، باختری، امان اشکریز، رفیق صادق او ناصر طهوری سره یی نږدی اړیکې ساتلې او د هغوی انتحاب ته یې اهمیت ورکاو. ده ځانګړی ذوق درلود، د راډیو تر ټولو غوره پروګرامونو( ازهرچمن سمنی، رادیویی مجله) کې به یوه یا دوه (دګوتو په شمار) ډیرې ټاپ سندرې وې لکه یوه نیمه هندی، غربی، ناشناس، ګوګوش، استادایوب، ساربان، ځلاند، قمرګل، احمدولی، استا اول میر او ظاهر هویدا. د دغه فوق العاده پروګرامو دعالی ذوق لرونکو پرودیسرانو( مثلاً فارانی) هره سندره په ذوق برابره نه وه. د دې علت داو چې لږشمیر هنرمندانود شعر او طرز له پلوه ښه سندره لرله، په دوی کې یو یې هویدا و. آن کله چې مهاجر شو، هامبورګ کې یې داکتر اسدالله حبیب، بارق، وسا او نورو ادیبانو او هنرمندانو سره له نږدې اړیکې وې او لکه د ادب د یو شاګرد په شان به یې د نامتو لیکوالو خبرو ته غوږ نیو. دبیعدالتی ضد فکر یې درلود، نوځکه یې یوشمیر اشعار لکه:(نازم ان مشتی که فرق زورمندان بشکند- بشکند دستی که بازوی ضعیفان بشکند...) یاغي او مبارزاتي دي. میرمن یې (وحیده هویدا) روڼاندې او هنردوسته ښځه وه. دوی پنځه اولادونه لری. اوس یی آلمان کې لمسیان هم د ښوونځی عمر ته رسیدلي دي. راقم الحروف ۲۰۱۰م. کال کې یو شمیر دوستانو سره له بوخم ښار څخه د یوې خصوصی فرهنګی ناستې لپاره هامبورګ ته تللی وو. هلته مو وروسته تر یوولسو کلونو هویدا ولید، ډېر بدل شوی و. له هغه وخته چې داتیایمو کلونو وروستیو کې مو پولیتخنیک کې تاجکستاني هنرمندانو سره لیدلی و، له هغه وخته یې ډېر بدلون موندلی و، روغتیا یی ښه نه وه ملا او لوړ قد یی لږ څه کړوپ او رنګ یې ژیړ بریښېد، خو غږ یې هماغه پخوانی راښکون درلود. لا یې هم اکاردیون ورسره و، خو د۲۰۱۲م. کال د مارچ لومړیوکې یې چې کابل کې وم، له مړینې یې خبر شوم، یو ځل بیا رایاد شو. دغه پردېس هنرمند همالته آلمان کې خاورو ته وسپارل شو. ویل کیږي چې ډېره موده یې غاړه یا غوږ لاندې برخه کې د سرطان دانه لرله، مړینه یې د همدې ناروغي له امله وه.
ظاهر هویدا د بیلابیلومناسبتو له امله ولایاتو او بهرنیو هیوادو ته هنری سفرونه کړي وو. د ژوندون، انیس او آواز مجلو کې مرکې لري. خپله یې هم ملی تلویزیون کې نورو هنرمندانو سره مرکې کړې دي.
حیرانوونکې ده چې دې وروستیو کې یواځې د یو څو هنرمندانو نوم ډېر یادیږي، خو واقعیت دا دی چې له څلویښتمو تر شپیتمو لمریزکلونو پورې زموږ ټول هنرمندان علی السویه محبوب او خپل هنر او ځانګړي سبک کې وتلی-پیژندل شوي وو( هم اماتور، هم محلی هم کلاسیک). هغه وخت ځوانانو کې د ظاهر هویدا، ناشناس،ځلاند، حبیب شریف، احمد ظاهر، رخشانې، احمد ولی، نعیم پوپل، رحیم غمزده، جوادغازی یار، رحیم مهریار، رحیم جهانی،... ډېر فرق نه و. د دې لیکنې موخه همدا ده چې اوسني وخت کې د یو یا دوو هنرمندانو دنوم ډیر یادېدل باید په دې مانا نه وي، چې نور هېر کړو. په دې کې یو یې ظاهر هویدا دی. دبیلګې په توګه ظاهرهویدا او احمد ظاهر دواړه په یووخت کې مشهور شول. د افغانستان موسیقی ته د ده یو خدمت دا و چې فولکلور سندرې یې د لویدیزې موسیقی وسایلو سره ثبت او ضبط کړي دي.
**خاطره**: *دهلکتوب دوره هم عجیبه دوره وي. موږ دحبیبې هلکانو د احمد ظاهر هنر خوښاو،* ***هغه*** *زموږ د مکتب بلبل و، خو همدومره ظاهر هویدا هم ګرانښت درلود. زموږ ټولګیوال، لطیف جان( یاد یې په خیر ، اوس د امریکا متحده ایالاتو کې سپین ږیری او بوډاشوی دی) د ده غږ یوڅه ظاهر هویدا ته ورته و. په تفریح کې به زموږ نیم صنف د حبیبې د لیسې له نعمتونو ډک کانتین او له ګلونو ډکو چمنونو ته نه وتلو، ټولګی کې به پاتې شولو لطیف جان به په*


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

*يو چوکۍ کيناست بله به يې مخې ته کېښوده په دوو قلمونو به يې (جازاو درم!) پيل او سندره به يې زموږ په فرمايش ويله. دغو لس دقيقو تفريح بيل کيف درلود.(د دغه ښوونځي چوکۍ يو کسيزه او هرې يوې خپل ميز او د کتابو اېښودو ځای درلود. د ميز مخ او د کتابو د اېښودو تختې يې د قلم په وهلو عجيب غږ کاو!) دا په تفريح کې زموږ کنسرت اوموسيقی وه! بيا مو په ژوند کې هغه خوښي ونه ليده.د حبيبې يو شاګرد هم بی هنر او بی کماله نه و: دوي په لوست کې د لياقت ترڅنګ؛ خطاط، شاعر، انځورګر، ليکوال، دسپورت دډګر ...مخکښان هم وو(لطيف جان دې خدای ژوندی لري).*

ظاهر هويدا يو بی مُدعا هنرمند و، ډېر فيشن يې نه کاو، لکه د هغه وخت د نورو هنرمندانو په شان يې ډېر عکسونه خواره نه وو، څومره مو چې ياد دي يواځې د پرکاش، رڼا او زينت د عکاسخانو ويترين کې يې عکس و، چې هغه هم د ده له خبرتيا پرته. د افغان موزيک او موزيک سنتر په کسټونو يې هماغه د ځلوېښتمو کلونو عکس و چې ډېرو کاپي کړی و. دټوکو او فی البديهه ځواب ويلو ظرافت يې درلود. دمهاجرت په کلونو کې يې ويښتان تور رنګول، خو کله يې چې عينکې په سترګو کړې، د هنر دمينه والو زړونه يې وريږدېدل او د خپل دغه محبوب هنرمند د ژوند د لمر وړانګې يې د دېوالو په برو ځنډو وليدې. اروابناد له سختيو سره د مبارزې او شجاعت بېلګه او دصميميت سمبول و. د اشرافو او خواصو په پرتله عوامو سره ډېر محشور و. دهنری برنامو، کنسرت او نورو غونډو په بهير کې به يې دلومړيو کتارونو په پرتله دتالار وروستيو ته کتل. جوته ځانګړتيا يې دا وه چې د څو هنرونو لرونکی و، چې د فرهنګي کچې اوچتولو، تنوير، خوښي بخښلو، دعواطفوتلطيف، ذوق روزنې، په بهر کې د افغانی فوکلور او په مجموع کې د افغانی ثقافت معرفی کې يې ژور اغېز درلود. دا هغه وخت و چې راډيو افغانستان د افغانی کلتور او هڅوب بډای کور او د افکارو د تنوير ځلاند مشال و.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ